# شتمني SHTAMANI

اوونیزه

تأسیس: ۱۳۹۴ل ل

زموږ مالیه، زموږ هیواد، زموږ راتلونکی

د افغانستان اسلامي امارت

د ماليې وزارت

جمادی الاول ۴-۱۴۴۷ل س | د لړم ۴-۱۴۰۴ل ل | د اکتوبر۲۶-۲۰۲۵ز | پنځم کال | ۱۵۲ گڼه | ٤ مخیزه | ۱


**د حديث شريف ژباړه**

**رسول الله ﷺ فرمايلي دي:** چا چې د مسلمان ستر(عیب) پټ کړ، الله سبحانه و تعالی به د قیامت په ورځ د ده ستر(عیب) پټ کړي.

**یادونه:** له دغه حديث څخه دا څرگندېږي، چې د خلکو عیبونه پټول او هغوی ته د اصلاح فرصت ورکول د اسلام له غوره اخلاقو څخه دي. [مسلم شریف (۲۵٦۴)]

(د ماليې وزارت د دعوت او ارشاد رياست، له لوري)

## سرمقاله

### تأثیرات جنگ بر بنادر و گمرکات

بنادر و گمرکات نقش حیاتی در اقتصاد کشورها داشته و به عنوان نقاط کلیدی در اقتصاد ملی عمل کرده و با تسهیل تجارت بین الملل، ایجاد فرصت های شغلی، دسترسی به بازار های جدید و درآمد زایی تأثیر قابل توجهی بر رشد و توسعه اقتصادی دارند. ولی جنگ‌ها به‌عنوان وقایع پرتنش و مخرب، تأثیرات عمیق و گسترده ای بر ساختارهای اقتصادی و اجتماعی کشورها دارند. بنادر و گمرکات به‌عنوان نقاط کلیدی در تجارت بین‌المللی، به‌طور خاص تحت تأثیر جنگ قرار می گیرند. در اثر جنگ حجم واردات و صادارت کاهش می یابد. عدم اطمینان و خطرات امنیتی، کشورها را به سمت محدود کردن واردات و صادرات سوق می‌دهد. این اختلالات نه‌تنها به اقتصاد ملی آسیب می‌زنند، بلکه روابط تجاری بین‌المللی را نیز تحت تأثیر قرار می‌دهند. همچنان حمل و نقل کالاها به‌دلیل موانع موجود در مسیرها و تهدیدات امنیتی با تأخیر مواجه می‌شود. این تأخیر می‌تواند زنجیره تأمین را مختل کرده و به افزایش هزینه‌ها منجر شود. علاوه بر آن، حملات نظامی می‌توانند به زیرساخت‌های بنادر و گمرکات آسیب‌های جدی وارد کنند. این آسیب‌ها نه‌تنها فعالیت‌های تجاری را مختل می‌کنند، بلکه نیاز به بازسازی‌های پر هزینه دارند. اضافه بر آن، جنگ‌ها ممکن است باعث تغییر در مسیرهای تجاری شوند. بنادر جدیدی ممکن است به‌عنوان مراکز تجاری جایگزین انتخاب شوند، که این تغییرات می‌توانند به نفع یا ضرر برخی کشورها باشد. بیکاری در بین کارگران بنادر و گمرکات به‌دلیل کاهش فعالیت‌ها افزایش می‌یابد. این موضوع می‌تواند به نارضایتی اجتماعی و اقتصادی منجر شود. البته با بازسازی زیرساخت ها به منظور بازگرداندن عملیات تجاری به حالت عادی، توسعه برنامه های حمایتی برای جبران خسارات تجاری و مالی برای شرکت ها و کارگرانی که تحت تأثیر جنگ قرار گرفته اند، ایجاد تدابیر امنیتی برای حفاظت از بنادر و گمرکات در برابر تهدیدات احتمالی و به کارگیری تکنالوژی نوین و عصری برای بهبود کارایی و کاهش هزینه ها در عملیات گمرکی و بندری می توان تأثیرات جنگ بر بنادر و گمرکات را کاهش داده و به بهبود وضعیت اقتصادی کشور کمك کرد. امارت اسلامی افغانستان با تمرکز بر امنیت داخلی، سعی کرده است تا ناامنی را کاهش داده و شرایط مناسبتری برای فعالیت های اقتصادی فراهم کند. برای بهبود زیرساخت های بندری و گمرکی به منظور تسهیل تجارت و کاهش هزینه ها تلاش های جدی انجام داده و روابط تجاری خود را با کشور های همسایه و دیگر کشور ها تقویت نموده است. علاوه بر آن ساده سازی قوانین و مقررات گمرکی به منظور تسهیل جریان کالاها و کاهش زمان تحویل از اقدامات امارت اسلامی افغانستان برای تقویت بنادر و گمرکات محسوب می شود. سرانجام جنگ‌ها تأثیرات گسترده و عمیقی بر بنادر و گمرکات دارند که می‌توانند به تغییرات بلندمدت در ساختارهای اقتصادی و اجتماعی کشورها منجر شود. درك این تأثیرات برای برنامه‌ریزی بهتر و مدیریت بحران‌های آینده ضروری است.

**با احترام**

**اداره**

## ماليې وزارت د ملي بوديجې د پلان جوړوني د نوي سيستم ازمايښتي پړاو پيل کړ

د ماليې وزارت ملي بوديجې لوی رياست، د خزاينو لوی رياست د سيستمونو له رياست سره په همکارۍ، د ملي بوديجې پلان جوړوني د يوه نوي سيستم رامنځته کولو په موخه گام پورته کړی، چې دا چاره د ملي بوديجې د چمتو کولو او پلانولو په پروسه کې د عصري کولو، ډيجيټل کولو او روڼتيا زياتولو له پاره يوه هڅه ده. په لومړيو پړاوونو کې د ملي بوديجې د پلان او ريفورم رياست، د بوديجې له متخصصينو سره په گډه، د نوي سيستم اړتياوې او ځانگړتياوې په گوته او د دې رياست د ډېټابېس او راپور ورکولو آمريت تخنيکي ټيم د سيستمونو رياست تخنيکي ټيم ته ئې د مخکني بوديجوي پلان جوړوني سيستم روزنه او توضيحي پروگرامونه چمتو کړل؛ ترڅو هغوی له ټولو کاري جزياتو او شته ستونزو سره بلد سي.




د نوي سيستم عملي آزمايښتي پړاو د (۱۴۰۴) کال د تلې په (۲۷) پيل او د دواړو رياستونو تخنيکي ټيمونه به د دې سيستم تخنيکي کړنې، د گټې اخيستو اسانتياوې، په معلوماتو کې کره والی او د راپور اخيستو د وړتيا له پلوه و ارزوي.

دوام ئې په ۲ مخ کې

## د کورنۍ پلټنې لوی رياست د څه کم (۲۰۰) ادارو پلټنه ترسره کړې ده

د ماليې وزارت د کورنۍ پلټنې لوی رياست، چې د تاکل سويو اصولو له مخې، د دې وزارت د مالي، حسابي او اداري واحدونو د هرراز فعاليتونو د پلټنې مسئوليت په غاړه لري، د (۱۴۴٦هـ.ق) کال په ترڅ کې ئې له منظور سوي پلان سره سم د گمرکونو، مستوفيتونو، مرکزي رياستونو، واحدونو، مالياتي حوزو، معلوماتي سيستمونو، کنټرول مديريتونو، امارتي املاکو او پراختيايي پروژو په گډون په ټوليز ډول د (۱۸۵) واحدونو پلټنه کړې ده. سربېره پر دې د کورنۍ پلټنې لوی رياست، غير پلاني يعنې ځانگړي موضوعات او د مراجعينو شکايتونو له ډلي (۵۱) ځانگړو موضوعاتو او د مراجعينو شکايتونو ته رسېدنه کړې ده. ياد رياست د بوديجوي واحدونو د کورنيو پلټونکو د مسلکي ظرفيت لوړوني او اداري پياوړتيا په موخه د (۱۴۴٦هـ.ق) کال په اوږدو کې د (۲۴) وزارتونو او خپلواکو ادارو کورنيو پلټونکو ته، چې شمېر ئې



لسگونه تنه کېږي د پلټنې په برخه کې بېلابېل تخصصي روزنيز پروگرامونه هم جوړ کړي دي، چې د دوی په مسلکي روزنه او پياوړتيا کې ئې رغنده رول لوبولی دئ. د يادوني ده، چې د مراجعينو شکايتونو او عريضو ته د ښې رسېدني په موخه، د کورنۍ پلټنې په لوی رياست کې د "تجديد نظر" تر عنوان لاندې يوه کمېټه هم رامنځته سوې ده، چې ياده کمېټه د مراجعينو هغو شکايتونو او عرايضو ته رسېدنه کوي، چې د پلټنې د پايلو د نه قناعت له امله ئې د کورنۍ پلټنې لوی رياست ته سپارلي وي.

## د روان کال په دوهمه ربعه کې د هيواد گمرکي چارو (۱۰) سلنه پرمختگ کړی دئ

د ماليې وزارت د گمرکونو لوی رئيس الحاج مولوي محمد حامد احمد په مشرۍ د روان (۱۴۰۴هـ.ل) کال په دوهمه ربعه کې په گمرکونو کې د ترسره سويو چارو د تخنيکي ارزوني ناسته پر ليکه او حضوري بڼه وسوه. په دې ناسته کې د گمرکونو لوی رياست تخنيکي او عملياتي مرستيالانو، يو شمېر رئيسانو، آمرينو او د ويډيو کنفرانس له لارې د ولايتي گمرکونو مسئولينو گډون کړی وو. په پيل کې د گمرکونو لوی رئيس گډونوالو ته د ښه راغلاست ترڅنگ وويل، چې د ټولو مسئولينو د صادقانه کړنو له کبله ورځ تر بلې د هيواد د گمرکونو چارې د ښه کېدو پر لور رواني دي. نوموړي، د ولايتي گمرکونو مسئولينو ته سپارښتنه وکړه، چې د چارو د لا ښه والي او د ستونزو د حل له




پاره له اړوندو ولايتي ادارو سره همغږي لا زياته کړي. ور پسې د گمرکونو لوی رياست د پلان جوړوني، پاليسۍ، څارني او ارزوني رياست له لوري د روان کال په دوهمه ربعه کې په گمرکونو کې د تر سره سويو فعاليتونو په تړاو ټوليز راپور وړاندې سو.

دوام ئې په ۲ مخ کې




**د څار کمېټې د اقتصادي وزارتونو او ادارو پر کړنو لومړنۍ ناسته وکړه**

م ۲




**د کورنۍ پلټنې لوی رئيس د فرمانونو او حکمونو د تعقيب او نظارت لوی رياست په مشورتي ناسته کې گډون وکړ**

م ۲


د افغانستان اسلامي امارت
د ماليې وزارت
د اړيکو او عامه پوهاوي رياست

امارت اسلامی افغانستان
وزارت مالیه
ریاست ارتباط و آگاهی عامه

د متقاعدينو د حقوقو د ورکړې درېيم نوبتي مياشتنی مهالوېش

د تله ۲٦مه ۱۴۰۴هـ.ل

د ماليې وزارت د تقاعد د حقوقو عمومي رياست د متقاعدينو د حقوقو د ورکړې درېيم نوبتي مياشتنی مهالوېش اعلانوي، چې له مخې به ئې د روان (1404هـ.ل) کال د لړم (عقرب) مياشتي د پنځمي نېټې د منظم مهالوېش سره سم په نوبتي ډول د لاندې څلورو تثبيت سويو ادارو د متقاعدينو د حقوقو د ورکړې پروسه طی مراحل کېږي.
هغه قدرمن متقاعدين، چې د ادارې نوم ئې په لاندې نوملړ کې شامل نه دئ؛ د تقاعد عمومي رياست ته دې مراجعه نه کوي!

| گڼه | د ادارې نوم | د پيل نېټه | د پای نېټه |
|---|---|---|---|
| ۱ | د سرحدونو او قبايلو چارو وزارت | ۱۴۰۴-۰۸-۰۵ | ۱۴۰۴-۰۸-۱۰ |
| ۲ | د کليو د بيارغوني او پراختيا وزارت | ۱۴۰۴-۰۸-۱۱ | ۱۴۰۴-۰۸-۱۷ |
| ۳ | د حج او اوقافو وزارت | ۱۴۰۴-۰۸-۱۸ | ۱۴۰۴-۰۸-۲۳ |
| ۴ | د ملي دفاع وزارت جنرالان | ۱۴۰۴-۰۸-۲۴ | ۱۴۰۴-۰۸-۳۰ |

د پاتي نورو ادارو مهالوېش د روان کال د لړم (عقرب) مياشتي پر (25)مه نېټه اعلانېږي.

**د متقاعدينو د حقوقو د ورکړې درېيم نوبتي مياشتنی مهالوېش**

م ۲



**د فراه ولايت د ابو نصر فراهي په گمرک کې تاريخ تېر او بې کيفيته توکي وسوځول سول**

م ۲




**د ماليې وزارت د رهبرۍ پلاوي څلورمه ناسته وسوه**

م ۳




**تُرکمنستان په افغانستان کې د تاپي پروژې نوی پړاو پيل کړ**

م ٤

شتمنی
SHTAMANI
اوونیزه



# د فراه ولایت د ابو نصر فراهي په ګمرک کي تاریخ تېر او بې کیفیته توکي وسوځول سول



د فراه ولایت د ابو نصر فراهي په ګمرك کي له ولایتي ادارو سره په همغږۍ (۳٦) ټنه تاریخ تېر او بې کیفیته خوراکي او غیر خوراکي توکي، چي د یاد ګمرك په هنګرونو کي موجود ول، د اړوندو ادارو د با صلاحیته استازو په حضور کي وسوځول سول.

دغه توکي یوه اندازه ئې قاچاقي او یوه اندازه ئې تاریخ تېر او ټیټ کیفیت را وارد سوي ول، چي له منځه یووړل سول.

## د ښار کمېټې د اقتصادي وزارتونو او ادارو پر کړنو لومړنۍ ناسته وکړه

د افغانستان اسلامي امارت د اقتصادي کمېسیون د پرېکړي او د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله تعالی) په منظورۍ د اقتصادي وزارتونو او ادارو پر کړنو د ښار کمېټه جوړه سوې ده. د مالیې وزارت د ګمرکونو او عوایدو معین الحاج مفتي عبدالمتین سعید په مشرۍ د یادي کمېټې لومړنۍ ناسته د اقتصادي وزارتونو او ادارو د با صلاحیته استازو په ګډون د دغه معینیت د غونډو په تالار کي وسوه. په دې ناسته کي په اړوندو ادارو کي هیوادوالو



ته د لا ډېرو اسانتیاوو پر رامنځته کولو، د کارونو د ځنډ څخه د مخنیوي پر لارو چارو، د مراجعینو له پاره د لازمو لاربښودونو پر جوړولو او د شته ستونزو پر حلولو خبري وسوې او د اړوندو ادارو ترمنځ د لا ښې همغږۍ او د هیوادوالو د ستونزو د حل په برخه کي د کمېټې ناستي مهمې وبلل سوې.

په پای کي د اړوندو وزارتونو او ادارو څخه د ګډې تخنیکي کمېټې د جوړولو پرېکړه وسوه، څو یاد موضوعات وڅېړي او راپور ئې راتلونکي ناستي ته وړاندي کړي.

## د کورنۍ پلټني لوی رئیس د فرمانونو او حکمونو د تعقیب او نظارت لوی ریاست په مشورتي ناسته کي ګډون وکړ

د مالیې وزارت د کورنۍ پلټني لوی رئیس الحاج ملا عبدالهادي ابرار د فرمانونو او حکمونو د تعقیب او نظارت لوی ریاست په مشورتي ناسته کي ګډون وکړ. دغه ناسته، چي د فرمانونو او حکمونو د تعقیب او نظارت لوی ریاست د پلټني مرستیالۍ په نوښت د اړوندو وزارتونو او ادارو د کورنۍ پلټني ریاستونو ترمنځ د غوره همغږۍ، کاري اغېزمنتیا او همکارۍ رامنځته کولو په موخه د پلټني مرستیالۍ په ودانۍ کي جوړه سوې وه، د یو لړ دوه اړخیزو موضوعاتو پر بحث سربېره په نظام کي د پلټني د اهمیت او ارزښت په اړه هم خبري پکښې وسوې.

د فرمانونو او حکمونو د تعقیب او نظارت لوی ریاست د پلټني مرستیال مولوي محمد محسن هاشمي د ناستي ګډونوالو ته د ښه راغلاست ترځنګ د نظام په کچه د روڼتیا د تامین او د اداري فساد د مخنیوي په موخه د نظارتي ادارو ترمنځ په همغږۍ، تجربو شریکولو، مسلکي او کاري همکاریو پر رامنځته کولو ټینګار وکړ.

همدارنګه د مالیې وزارت د کورنۍ پلټني لوی رئیس الحاج ملا عبدالهادي ابرار د خپلو خبرو په ترڅ کي د دا ډول مشورتي ناستو په جوړېدو خوښي څرګنده کړه او د یادو ادارو ترمنځ ئې د همغږۍ او همکارۍ د مثبتو پایلو په اړه خبري وکړې او د مالیې وزارت د کورنۍ پلټني لوی ریاست له لوري ئې د هر راز همکارۍ ډاډ ورکړ.




## د متقاعدینو د حقوقو د ورکړي درېیم نوبتي میاشتنی مهالوېش

د مالیې وزارت د تقاعد د حقوقو عمومي ریاست د متقاعدینو د حقوقو د ورکړي درېیم نوبتي میاشتنی مهالوېش اعلانوي، چي له مخي به ئې د روان (۱۴۰۴هـ.ل) کال د لړم (عقرب) میاشتي د پنځمي نېټې د منظم مهالوېش سره سم په نوبتي ډول د لاندي ځلورو تثبیت سویو ادارو د متقاعدینو د حقوقو د ورکړي پروسه طی مراحل کېږي.

هغه قدرمن متقاعدین، چي د اداري نوم ئې په لاندي نوملړ کي شامل نه دئ؛ د تقاعد عمومي ریاست ته دي مراجعه نه کوي!

| شمېره | د اداري نوم | د پیل نېټه | د پیل نېټه |
|---|---|---|---|
| ۱ | د سرحدونو او قبایلو چارو وزارت | ١٤٠٤/٠٨/٠٥ | ١٤٠٤/٠٨/١٠ |
| ۲ | د کلیو د بیارغوني او پراختیا وزارت | ١٤٠٤/٠٨/١١ | ١٤٠٤/٠٨/١٧ |
| ۳ | د حج او اوقافو وزرات | ١٤٠٤/٠٨/١٨ | ١٤٠٤/٠٨/٢٢ |
| ٤ | د ملي دفاع وزارت جنرالان | ١٤٠٤/٠٨/٢۴ | ١٤٠٤/٠٨/٣٠ |

**د پاتي نورو ادارو مهالوېش د روان کال د لړم (عقرب) میاشتي پر (۲۵)مه نېټه اعلانېږي.**

## جلسه آفر گشایی پروژه ساخت مارکیت تجارتی و رهایشی ابوذر غفاری- میرویس میدان برگزار گردید

ریاست عمومی املاک امارتی وزارت مالیه جلسه آفرگشایی پروژه ساخت مارکیت تجارتی و رهایشی ابوذر غفاری واقع ناحیه (۵) میرویس میدان شهر کابل را با حضور داشت چند شرکت داوطلب در سالون کنفرانس های خیبر وزارت مالیه دایر نمود. در این جلسه شرکت های که خواهان سرمایه گذاری و سهیم شدن در آبادانی کشور و رشد اقتصادی بودند، اشتراک و طرح های پیشنهادی خود را ارائه نمودند. قرار است این مارکیت حد اکثر در (۲۳) منزل به شمول سه تهکوی اعمار گردد. مساحت کلی جایداد (۸۱۸۴) متر مربع بوده که (۷۰) فیصد آن برای ساخت مارکیت متذکره و (۳۰) فیصد آن برای فضای سبز اختصاص داده شده است. با اجرای این پروژه نه تنها آبادانی صورت می گیرد بلکه برای کثیری از هموطنان زمینه کار فراهم می شود. گفتنی است که طرح های پیشنهادی بعد از بررسی توسط کمیته تحلیل و ارزیابی به معاونیت اقتصادی ریاست الوزراء جهت تصمیم گیری نهایی و اعلام شرکت برنده ارائه می گردد.

## در دو هفته گذشته مقدار زیادی اموال قاچاقی در ولایات مختلف کشور ضبط گردیده

کارمندان مراقبت سیار ریاست عمومی گمرکات وزارت مالیه طی دو هفته گذشته در ساحات مختلف ولایات نیمروز، قندهار، و هلمند اموال قاچاقی را ضبط نموده اند، که قاچاقچیان می خواستند آنرا بدون محصول گمرکی وارد افغانستان نمایند. اموال ضبط شده شامل، (۱۲۷٦۹) کیلو گرام ادویه طبی انسانی، (۲۲۰) کیلو گرام ادویه حیوانی، (۱۴۳۷) کیلو گرام چاکلیت، (۱۰٦٦) کیلو گرام البسه جدید، (۴۴۰۰)





کیلو گرام نمك، (۳۵۳۴) کیلو گرام گُر، (۳۰۰۰) کیلو گرام مساله خوراکی، (۹۵۰) کیلو گرام مسکه پاکتی، (۹۲۲۵) کیلو گرام خرما، (۳۰۹) کیلو گرام رخت باب، (۲۰۰) کیلو گرام تمباکو، (۱۴۲) کیلو گرام میوه چلم، (۱۵۰) کیلو گرام اچار، (۱۵۰) کیلو گرام لوبیا، (۵۰) کیلو گرام شیر، (۴۹) کیلو گرام بنجاره باب و (۲۵) کیلو گرام نخود خام میباشد. افراد متهم در قضیه و اموال ضبط شده برای تحقیقات و جزیات بیشتر به گمرکات مربوطه تسلیم داده شده. قابل یادآوریست که کارمندان مراقبت سیار وزارت مالیه در تمام نقاط کشور نظارت داشته و به هیچ کس اجازه نمیدهد که اموال ممنوعه و قاچاقی انتقال دهند.

## د کابل ګمرک له پاره نوی رئس معرفي سو

د مالیې وزارت په وړاندیز او د افغانستان اسلامي امارت د ریاست الوزراء عالي مقام په منظورۍ یعقوب شاه اغا (جارالله) چي د کابل ګمرک د نوي رئیس په توګه ټاکل سوی، د ګمرکونو او عوایدو معین الحاج مفتي عبدالمتین سعید او د ګمرکونو لوی رئیس الحاج مولوي محمد حامد احمد له لوري د یاد ګمرک کارکوونکو ته ور وپېژندل سو.

د ګمرکونو او عوایدو معین نوي ټاکل سوي رئیس ته د مبارکۍ ترڅنګ په چارو کي د بریالیتوب هیله وکړه او د مخکني رئیس د کړنو او لاسته راوړنو ستاینه ئې وکړه. نوموړي؛ په خپلو خبرو کي وویل، چي په نظام کي تغییر او تبدیل یو منل سوی اصل دئ او تطبیقول ئې پر موږ ټولو لازم دي.

د کابل ګمرك نوي ټاکل سوي رئیس له مشرانو څخه د مننې ترڅنګ د ښه خدمت کولو ژمنه وکړه.

د یادوني وړ ده، چي یعقوب شاه اغا (جارالله) په ګمرکي چارو کي پوره کاري تجربه لري او نوموړي د نیمروز ګمرك د رئیس په توګه هم دنده تر سره کړې ده.



... مالیې وزارت د ملي بودیجې د پلان جوړوني

دا سیستم د بودیجوي واحدونو له پاره پرمختللي ځانګړتیاوي وړاندي کوي؛ ترڅو دوی وکړای سي، چي خپل مالي پلانونه په بریښنایي ډول چمتو او د ملي بودیجې لوی ریاست ته ئې واستوي. دا سیستم د بودیجوي واحدونو، د بودیجې لوی ریاست او د خزاینو لوی ریاست ترمنځ د اړیکو او همغږۍ پروسه هم اسانه او چټکه کوي. د دې پروژې اصلي موخه د شفافیت زیاتول، د بیروکراسۍ کمول او د مالي سرچینو په مدیریت کي د حساب ورکولو پیاوړتیا ده. نوی سیستم له نړیوالو معیارونو سره سم مطابق دئ او په تدریجي ډول به د هیواد په ټولو بودیجوي واحدونو کي پلی سي. دا اقدام د هیواد د مالي او بودیجوي اصلاحاتو پر لور یو مهم ګام او د بودیجې په جوړولو کي د شفافیت او مؤثریت له پاره د مالیې وزارت ژمنتیا څرګندوي.

... د روان کال په دوهمه ربعه کي

په دې موده کي د عوایدو راټولېدو، د هیواد په ټولو ګمرکونو کي تر سره سوي سوداګرۍ، د وارداتي توکو ګمرکي ارزښت او د سوداګریزو محمولو د شمېر او ثبت سوي وزن په اړه غونډې ته بشپړ معلومات وړاندي کړل، چي په دې راپور کي د تېر کال د همدې مودې په پرتله د ګمرکونو چاري (۱۰،۱) سلنه مثبتي وښودل سوې. همدارنګه د چارو د لا پرمختګ په موخه د ولایتي ګمرکونو د مسئولینو ستونزي او وړاندیزونه واورېدل سول، چي د رهبرۍ له لوري د ستونزو د حل ډاډ ورکړل سو.



شتمنی
SHTAMANI
اوونیزه

# د ماليې وزارت د رهبرۍ پلاوي ځلورمه ناسته وسوه

د ماليې وزارت د اداري معين او کفيل مولوي دوست محمد مخلص په مشرۍ د دغه وزارت د رهبرۍ پلاوي ځلورمه ناسته، د ګمرکونو او عوايدو او پاليسۍ معينانو، د اړوندو رئيسانو او مسئولينو په ګډون د ماليې وزارت په مقام کې وسوه.




په دې ناسته کې د تېرې اداري پر مهال د کمېشنکارانو د تضمين پر استرداد، د هغو شرکتونو او اشخاصو له پاره د ځانګړي امتياز يا تخفيف د ورکړې د څرنګوالي په اړه، چې هيواد ته باکيفيته نفتي محصولات واردوي، د خوراکي موادو او صحي محصولاتو د غوره ساتنې او خونديتوب له پاره په ګمرکونو کې د معياري ګودامونو د جوړولو او يو شمېر نورو اړينو مسايلو په اړه بحث او لازمي پرېکړې وسوې.

د يادوني ده، چې د ماليې وزارت د رهبرۍ ناستې د ياد وزارت د اړوندو څانګو ترمنځ د غوره همغږۍ او د چارو د لا پرمختګ په موخه ترسره کېږي.

# د عوايدو د مستوفيتونو چارو مرستيال د غزني له مستوفيت څخه ليدنه وکړه

د ماليې وزارت د عوايدو لوی رياست د مستوفيتونو چارو مرستيال نقيب الله عابد د غزني مستوفيت د چارو د څارنې او ارزونې په موخه له ياد مستوفيت څخه ليدنه وکړه.

په دې ليدنه کې د عوايدو د مستوفيتونو چارو مرستيال د غزني له مستوفي سره ناسته وکړه او د ياد مستوفيت د فعاليتونو راپور ئې واورېده، د عوايدي هدف ترلاسه کولو او د اداري چارو د پرمختګ په موخه له مسئولينو سره د تجربو او لارښوونو تر شريکولو وروسته نوموړي سوداګرو، صنعتکارانو او ماليه ورکوونکو ته د سهولتونو پر برابرولو ټينګار وکړ. همدارنګه نوموړي په دې ليدنه کې د ياد مستوفيت د چارو د څارني پر مهال د تخنيکي هيئت د پخوانيو سپارښتنو او لارښوونو عملي کېدل تعقيب کړل، چې د مستوفيت د همکارانو له خوا تر ډېره حده عملي سوي وې.

وروسته ښاغلي عابد د غزني مستوفيت له اړوندو مديريتونو ليدنه وکړه، د هغوی چاري او فعاليتونه ئې وڅارل، د هغوی ستونزي او غوښتني ئې واورېدې او د حل لپاره ئې ترڅنګ ماموريتو ته لازمي سپارښتني وکړې.

د مستوفيتونو څخه ورته ليدني د مستوفيتونو د چارو د ارزونې، څارني او مراجعه کوونکو ته د خدماتو د سطحي د لوړولو په موخه ترسره کېږي.

# برای فارغان برنامه آموزشی مسلکی سازی کنترول کیفیت تصدیقنامه اعطاء گردید

ریاست امور کارکنان وزارت مالیه به کارمندان ریاست کنترول کیفیت بنادر که از برنامه آموزشی مسلکی سازی کنترول کیفیت فارغ گردیده بودند، طی مراسمی تصدیقنامه اعطاء نمود. در این مراسم، قاری محمد ابراهیم خلیل، رئیس کنترول کیفیت، مفتی عبدالوهاب عابد، آمر آموزش و ارتقای ظرفیت ریاست امور کارکنان، مولوی حیات الله ابو احمد، نماینده ریاست دعوت و ارشاد و شماری از مسئولین دیگر اشتراک داشتند.

آمر آموزش و ارتقای ظرفیت طی سخنانش به اشتراک کنندگان گفت، شما نمایندگان وزارت مالیه در ولایات هستید. تلاش کنید از دانش و مهارت های بدست آمده برای ارائه خدمات هرچه بهتر به مردم و جلوگیری از ورود مواد نفتی بی کیفیت استفاده کنید، زیرا مواد نفتی بی کیفیت هم محیط زیست را خراب می کند و هم به سلامت مردم ضرر می رساند. رئیس کنترول کیفیت طی سخنانش گفت، شما بعنوان سرمایه های این وطن نقش حیاتی در



تضمین کیفیت کالا ها و مواد نفتی دارید. از کیفیت محصولات و مواد نفتی اطمینان حاصل کنید و نگذارید؛ با ورود مواد نفتی بی کیفیت سلامت و محیط مردم خراب شود، اینکار دور از عدالت است. نماینده ریاست دعوت و ارشاد طی سخنانش به اشتراک کنندگان توصیه نمود تا از نعمت های خداوند شکر گذاری نموده و متعهد به اسلام و وطن باشند. در اخیر به فارغان برنامه آموزشی تصدیقنامه اعطاء گردیده و مراسم با دعای خیر اختتام یافت.


# اعلانات داوطلبی

## اطلاعیه تصمیم اعطای قرار داد

بدینوسیله به اطلاع عموم رسانیده میشود، اینکه وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان در نظردارد، پروژه ترمیمات دفاتر مدیریت عمومی حوزه ۱۷ مالیاتی دارای نمبر تشخیصیه MOF/۱٤۰٤/ ۱۶۱۹-NCB/W را با شرکت خدمات لوژستیکی و ساختمانی ادریس سیدی دارنده جواز نمبر ٦٦١٥٩ به قیمت مجموعی مبلغ ٦،٩٥١،٤٣١ (شش میلیون و نه صدو پنجاه و یک هزار و چهار صدو سی و یک ( افغانی عقد قرارداد نماید. اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض درزمینه داشته باشند میتواند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی ۷ روز تقویمی طور کتبی توام با دلایل آن به وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان واقع پشتونستان وات -کابل ارائه نماید. این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

آدرس : وزارت مالیه چهارراهی پشتونستان –ریاست تدارکات، آمریت ارزیابی آفرها و خریداری پرچون- منزل دوم معینیت اداری

## اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد

بدینوسیله به اطلاع عموم رسانیده میشود، اینکه وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان در نظردارد، پروژه حفر ۱۵۰ متر چاه پیچی در محوطه حوزه هشتم مالیاتی ریاست مالیه دهندگان کوچک دارای نمبر تشخیصیه MOF/۱٤۰٤/ ۲۳۵۹-NCB/W را با شرکت ساختمانی و سرکسازی سید عمر سادات دارنده جواز نمبر ۳۷۱۷۵ به قیمت مجموعی مبلغ ۵۸۷,۸۷۵ (پنج صدو هشتاد هفت هزار و هشت صدو هفتاد پنج ( افغانی عقد قرارداد نماید. اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض درزمینه داشته باشند میتواند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی ۷ روز تقویمی طور کتبی توام با دلایل آن به وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان واقع پشتونستان وات -کابل ارائه نماید. این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

آدرس : وزارت مالیه چهارراهی پشتونستان –ریاست تدارکات، آمریت ارزیابی آفرها و خریداری پرچون- منزل دوم معینیت اداری.

## د داوطلبی اعلان

د افغانستان اسلامي امارت د ماليې وزارت پر شرايطو برابر ټولو داوطلبانو ته بلنه ورکوي، چې (د ولايتي ګمرکونو له پاره د اور وژنې بېلابېلو بالونونو د چمتو کولو) په پروژه کې، چې تشخيصيه نمبر ئې (Rebid-۱۶۱۸- NCB/G/۱٤۰٤/MOF) دئ او د داخلي پرانيستي داوطلبۍ په بنه ترسره کېږي، برخه واخلي او شرطپاڼه ئې په پښتو او دري ژبه له لاندي آدرس څخه د شرط پاڼي له شرايطو او د تدارکاتو له عامه قانون سره سم، ترلاسه کړي. تر داوطلبۍ وړاندي د جلسي ټاکلي نېټه: د عقرب ۱۰//۱٤۰٤ نېټه د سهار ۱۰:۰۰ بجې. د آفرګشايي ټاکلي نېټه: د عقرب ۲۲/ ۱٤۰٤نېټه د سهار ۱۰:۰۰ بجې. د آفر تضمين: ۳۹,۰۰۰ (نهه دېر زره) افغانۍ دي. آدرس: د ملي تدارکاتو د اداري رسمي سايټ (https://tenders.ageops.af)، د ۱.۱.۱ د چارو اداري محترم لوی رياست. د اړيکو شمېره: ۰۲۰۲۹۲٤۱۵۶ په ځنډ رسېدلي او انټرنيټي افرونه د منلو وړ نه دي.

## د داوطلبی اعلان

د افغانستان اسلامي امارت د ماليې وزارت پر شرايطو برابر ټولو داوطلبانو ته بلنه ورکوي، چې (د کندهار په «محصولي او سرحدي» ګمرک کي د تخليې او بارګيرۍ خدمتونو) او (د هرات ګمرک او د اسلام کلا سرحدی ګمرک په آمريت کي د تخليې او بارګيرۍ) په پروژه کې، چې تشخيصيه نمبر ئې (۲۶۲۲-NCB/NC/۱٤۰٤/MOF) دئ او د داخلي پرانيستي داوطلبۍ په بنه ترسره کېږي، برخه واخلي او شرطپاڼه ئې په پښتو او دري ژبه له لاندي آدرس څخه د شرط پاڼي له شرايطو او د تدارکاتو د عقود له قانون سره سم، ترلاسه کړي. تر داوطلبۍ وړاندي د جلسي ټاکلي نېټه: د عقرب ۱۱//۱٤۰٤ نېټه د سهار ۱۰:۰۰ بجې. د آفرګشايي ټاکلي نېټه: د عقرب ۲۱/ ۱٤۰٤نېټه د سهار ۱۰:۰۰ بجې. د آفر تضمين: ۱،۲۰۰،۰۰۰ (يو ميليون او دوه سوه زره) افغانۍ دي. آدرس: د ملي تدارکاتو د اداري رسمي سايټ (https://tenders.ageops.af)، د ۱.۱.۱ د چارو اداري محترم لوی رياست. د اړيکو شمېره: ۰۲۰۲۹۲٤۱۵۶ په ځنډ رسېدلي او انټرنيټي افرونه د منلو وړ نه دي.

## اعلان داوطلبی

مستوفیت ولایت هرات ساحه سه باب غرفه و یک دربند دوکان واقع داخل گمرک اسلام قلعه و هرات ملکیت ریاست محترم گمرک ولایت هرات را بر اساس استعلام های همجوار از طریق داوطلبی و آفرگشایی مطابق به طرزالعمل قرارداد های املاک امارتی به اجاره ده .
۱- ساحه یک باب غرفه موازی ۱۲ متر مربع با کرایه ماهوار مبلغ (۹۰۰) افغانی.
۲- ساحه یک دربند دوکان موازی ۱۲ متر مربع با کرایه ماهوار مبلغ (۹۰۰) افغانی.
۳- ساحه یک باب غرفه موازی ۱۵ متر مربع با کرایه ماهوار مبلغ (۱۲۰۰) افغانی.
٤- ساحه یک باب غرفه موازی ۱۵ متر مربع با کرایه ماهوار مبلغ (۱۲۰۰) افغانی.
بناً اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان به کرایه گرفتن ساحه غرفه ها و یک دربند دوکان فوق باشند درخواست های خویش را برای مدت (۲۱) یوم اعتبار از تاریخ ۲۹ میزان سال ۱٤۰٤ الی ۱۹ عقرب سال ۱٤۰٤ به مدیریت عمومی املاک امارتی مستوفیت ولایت هرات سپرده، شرطنامه را مطالعه، تامینات نقداً اخذ میگردد.} تاریخ مجلس داوطلبی و آفر گشایی ۲۰ عقرب سال ۱٤۰۳ به ساعت ۲ بعد از ظهر برگزار میگردد.

آدرس: مستوفیت ولایت هرات، مدیریت عمومی املاک امارتی
شماره تماس: ۰۷۹٤۳۳۸۹۸۹

# شتمنی SHTAMANI
اوونیزه

زموږ مالیه، زموږ هیواد، زموږ راتلونکی

د امتیاز خښتن: د ماليې وزارت
مسئول مدیر: عبدالقیوم نصیر
مرستیال: شمس الدین عاطف
د کتنپلاوي تر نظر لاندي

ویبسایټ: mof.gov.af
ایکسپانه: Afghanistan mof
یوټیوب: afghanistan mof
شمیره : ۰۲۰۲۹۲٤٤٤۰(+)






## Technical Evaluation Meeting Observes Customs Affairs Surged by 10% in Q2 of FY1404




The technical evaluation meeting of the activities carried out in the customs in the second quarter of the current year 1404 (Afghan calendar) was held online and in person under the chairmanship of the Director General of Customs of MoF, Alhaj Maulawi Muhammad Hamid Ahmad. In this meeting, a comprehensive report on the activities carried out in the customs in the second quarter of the current FY1404 was presented. Complete information was provided on the collection of revenues, trade conducted in Afghanistan's customs, the customs value of imported goods, and the number and registered weight of commercial shipments during this period, which showed a positive increase of 10.1% in customs affairs based on YoY - compared to the same period last year. Notably, for the sake of further improve matters, the problems and suggestions of provincial customs officials were heard, and the officials of leadership assured of removing the obstacles.

## MoF Launches 'Pilot Phase' of New National Budget Planning System After Admitting Budgetary Reforms, Efficiency




The General Directorate of National Budget of MoF, in collaboration with the Systems Directorate of the General Directorate of Treasury, has set to establish a 'new national budget planning system', which is an effort to modernize, digitize, and increase transparency in the national budget preparation and planning process. In the initial stages, the Directorate of National Budget Planning and Reform, together with budget experts, identified the needs and features of the new system, and the technical team of the sub-directorate of Database and Reporting of the said body provided training and explanatory programs on the previous budget planning system to the technical team of the Directorate of Systems - hence, they were familiar with all the working details and existing issues. The pilot phase of the new system will begin on 27th of Mizan 1404 (Afghan calendar) and technical teams from both directorates will evaluate the performance of the system in terms of ease of use, accuracy of data, and reporting capabilities. "This system provides advanced features for budget units to prepare and submit their financial plans electronically to the General Directorate of National Budget. The system also simplifies and speeds up the communication and coordination process among budget units, the General Directorate of Budget, and the General Directorate of Treasury", officials stated. The main objective of this project is to increase transparency, reduce bureaucracy, and strengthen accountability in the management of financial resources. The new system is in line with international standards, and will be gradually implemented in all budget units of Afghanistan. This measure is an important step towards Afghanistan's fiscal and budgetary reforms and demonstrates commitment of MoF to transparency and efficiency in budgeting.




## تُرکمنستان په افغانستان کي د تاپي پروژې نوی پړاو پیل کړ




د آتاوطـن تُرکمنسـتان ـ ATAVATAN TÜRKMENISTAN پـه نـوم یـوې تُرکمنـۍ رسـنۍ د تاپـي پـروژې پـه تـړاو دوه راپورونـه خپـاره کـړي دي، چـې لومـړی ئـې پـه افغانسـتان کـي د دې پـروژې د نـوي پـړاو د پرانیسـتني او بـل هـم د افغانسـتان او تُرکمنسـتان د لـوړ پـوړو مشرانـو د لیـدني پـه هکلـه دئ. راپـور لومـړی د تُرکمنـو د مـلي رهـبر ښـاغلي قُربانقـولي بېـردي محمـدوف یادونَـه کـوي، چـې پـه هـرات کـي ئـې د تاپـي گازنللیکـي د (۱۵۳) کیلومیـتره اوږدې پـروژې د پرانیسـتني د مراسـمو سرمـشري کولـه، کـوم چـې د تُرکمنـو د سرحـد اباد لـه پـولي څخـه تـر هـرات پـوري اوږدوالـی لـري. پـه تُرکمنـي راپورنـو کـي د افغانسـتان دننـه یـادي نللیکـي تـه د «د ارکاداگ سـپین مسـیر» نـوم ورکـول سـوی دئ. ورپسـې لیکـي، چـې دا نللیکـه بـه افغانسـتان تـه د پـام وړ ټولنیـز ـ اقتصـادي گټـې پـه نصیـب کـړي او هـم بـه د کاري زمینـې او کلنـي عایداتـو پـه گـډون، چـې لـه یـو میلیـارډ (۱,۰۰۰,۰۰۰,۰۰۰) امریکایـي ډالـرو څخه ډېر دي گټـه ولري. پـه افغانسـتان کـي د تاپـي نللیکـي د سرحـد اباد ــ هـرات برخـي د جوړولـو کار پـه (سـیپتمبر/ ۲۰۲٤)ز کـي پیـل سـو. وایـي تـر اوسـه پـوري د تاپـي نللیکـي د تُرکمنـو برخـه، چـې (۲۱٤) کیلومـتره اوږدوالـی لـري، کامـلاً بشـپړه سـوې ده. د لومـړي راپـور وروسـتۍ برخـه د ښـاغلي قُربانقـولي وینـا تـه ځانگـړې سـوې ده، چـې د افغـان ـ تُرکمـن د اړیکـو د پیاوړتیـا او د دې لویـې پـروژې سـتاینه کـوي. دوهـم راپـور د مـلا عبدالغنـي بـراد اخونـد او د تُرکمنـو د مـلي رهـبر و کتنـي او خـبرو اتـرو تـه ځانگـړی سـوی دئ. ورپسـې لیکي، چې په افغانستان کي د پروژې عمـلي کار اوسـمهال (۱٤) کیلومـتره پرمختـگ کـړی دئ او د (۷۰) کیلومیتره نللیکـي نصبولـو لـه پـاره نـور چمتووالـی ښـودل سـوی دئ. د افغانسـتان اسـلامي امـارت د ریاسـت الـوزراء اقتصـادي مرسـتیال ښـاغلي مـلا عبدالغنـي بـرادر اخونـد راپـور تـه ویـلي دي، چـې د افغانسـتان لیـد یـوازي تـر تاپـي پـروژې پـوري محـدود نـه دئ؛ بلکـي موخـه ئـې د افغانسـتان او تُرکمنسـتان ترمنـځ د اقتصـادي دهلیـز پراخـول دي. د خـبري د وضاحـت پـه موخـه زیاتـوي، چـې پـه دې دهلیـز کـي د TAP-۵۰۰ د برېښـنا لېـږد پـروژه، د اُورگاډي جـوړول، سـړکونه، لوژیستیکي/لوجیسـتیکي مرکزونـه او نـور اقتصـادي نوښـتونه شـامل دي، چـې افغانسـتان ئـې د پلي کولـو، امنیـت او پایښـت د ډاډمنتیـا لـه پـاره پـه بشـپړ ډول ژمـن دئ. مسـؤلانو راپورونـو تـه دا ټکـی واضـح کـړی دئ، چـې د افغانسـتان دننـه د دې مهمـې سـیمه ییـزي پـروژې پـلي کـول بـه پـه راتلونکي کال کي بشـپړ سي.



## د مالیې وزارت د گمرکونو لوی ریاست تل ستاسو په خدمت کي دئ!

که تاسو د گمرکونو په هکله هر ډول معلوماتو ته اړتیا لرئ او د کومي ستونزي حل او یا شکایت را رسول غواړئ؛ نو مهرباني وکړئ له موږ سره په لاندي شمېره اړیکه ونیسئ!
اړیکه: ۲۲۱

## ریاست عمومی گمرکات وزارت مالیه همیشه در خدمت شماست!

اگر شما در مورد گمرکات به هر نوع معلومات نیاز دارید و یا میخواهید مشکل تان حل و شکایت تانرا به سمع ما برسانید، میتوانید به شماره ذیل با ما در تماس شوید!
تماس: ۲۲۱

## د شکایتونو اورېدلو آمریت ستاسو ستونزو او شکایتونو ته رسېدنه کوي

هـر هیـوادوال، چـې د مالیـې وزارت د اړونـد چـارو پـه تـړاو سـتونزه یـا شـکایت ولـري، کـولای سي، چـې د دغـه وزارت د شـکایتونو اورېدلـو لـه آمریـت سره ئـې پـه حضـوري بڼـه او یـا د لانـدي ادرسـونو لـه لاري شریـک کـړي.
ټلیفون او وټس اپ شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤۲۳۳
/۰۲۰۲۹۲٤۱۹۰/ ۰۷۴۵۷٦۵۷۵٦ (۹۳+)
برېښنالیک: officialcomplaints@mof.gov.af


شتمني اوونیزه د ټولو قدرمنو لوستونکو د مقالو منونکې ده؛ مقالې باید اقتصادي او د مالیې وزارت له اصولو سره سمې وي. له ټولو درنو همکارانو او د هیواد له لیکوالو څخه هیله کوو، چې خپلې مقالې د دغه برېښنالیک tamas@mof.gov.af له لاري موږ ته راواستوي.